United Nations
Assistance Mission in Afghanistan
UNAMA

## PRESS RELEASE

27 June 2023
Press contact: spokesperson-UNAMA@un.org

### د یوناما راپور پر لاس دجوړو شویو ماینونو د بریدونو له امله ملکي وګړو ته درنه مرګ ژوبله ثبت کړې

**کابل (د ۲۰۲۳ کال د جون ۲۷مه)** - د ملګرو ملتونو یو راپور چې نن خپور شو ښيي چې ځای پر ځای شوي چاودیدونکي توکي (IEDs) لاهم په افغانستان کې د پام وړ اندیښنه ده - سره له دې چې واک ته د طالبانو له رسیدو وروسته د ملکي تلفاتو په کچه کې تولیزکموالی راغلی – خو په عبادت ځایونو او د هزاره لږکیو پر وړاندې بریدونو کې زیاتوالي مشخص شوی.

په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د مرستندویه پلاوي (یوناما) په راپور کې راغلي، چې د ۲۰۲۱ کال د اګست له ۱۵ مې د ۲۰۲۳ کال د مې تر ۳۰مې پورې د ۳۷۷۴ ملکي تلفاتو له جملې درې پر څلورمه برخه یې په ګڼ مېشتو سیمو کې د ځای پر ځای شویو چاودېدونکو توکو له امله رامنځ ته شوي، چې پکې عبادت ځایونه، ښوونځي او بازارونه شامل دي.

د ملکي تلفاتو ډېره برخه د اسلامي دولت خراسان څانګې په نوم پیژندل کیدونکې ډلې (ISIL-KP) د بریدونو له امله رامنځ ته شوې. په راپور کې راغلي چې د ۲۰۲۱ کال د اګست په ۱۵ واک ته د طالبانو له رسیدو سملاسي وروسته د داعش-خراسان ډلې لخوا د ترسره شویو چاودیدونکو توکو د بریدونو په پایله کې د ملکي تلفاتو په شمیرکې د پام وړ زیاتوالی راغی. د چاودیدونکو توکو اړوند ملکي زیانونو اصلي لامل د داعش-خراسان او نورو ډلو لخوا ترسره شوي ځانمرګي بریدونه وو.

د یوناما د بشري حقونو د څانګې مشرې فیونا فریزر وویل: "پر ملکي وګړو او ملکي اهدافو دا بریدونه د غندنې وړ دي او باید ودرول شي. "هغې زیاته کړه: "دا مهمه ده چې واکمن چارواکي د ماینونو د بریدونو په اړه د خپلواکو، بې طرفه، چټکو، بشپړو، اغیزمنو، باوري او شفافو څېړنو په ترسره کولو سره د ژوند د حق د خوندیتوب لپاره خپل مکلفیت ترسره کړي".

د یوناما ارقام په عبادت ځایونو کې د ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو د بریدونو په پایله کې واک ته د طالبانو له رسیدو د دریو کلونو وړاندې ورته مودې په پرتله د ملکي تلفاتو په کچه کې د پام وړ زیاتوالی په ګوته کوي.

د چاودیدونکو توکو ډېری بریدونه د شیعه مسلمانانو پر عبادت ځایونو شوي چې د راپور ورکولو په موده کې د ثبت شویو ملکي تلفاتو څه باندې یو پر درې برخه تشکیلوي.

د اهل تشیع پر عبادت ځایونو په بریدونو سربیره، په راپور کې ویل شوي چې لږ تر لږه ۳۴۵ مرګ ژوبله (۹۵ تنه وژل شوي، ۲۵۰ تنه ټپیان) د هغو بریدونو له کبله رامنځ ته شوي چې موخه یې ترډیره په ښوونځیو، ښوونیزو بنسټونو، د ګڼې ګوڼې په لارو او کوڅو او عامه ترانسپورټ کې هزاره شیعیه ټولنه وه.

راپور سپارښتنه کوي چې واکمن چارواکي دې په عبادت ځایونو، تعلیمي موسساتو او د هزاره شیعه ټولنې په منځ کې د ورته بریدونو د بیا پیښیدو د مخنیوي په موخه د ځانګړو خطرونو په پام کې نیولو سره محافظتي ګامونه پورته کړي .

په افغانستان کې له روان بشري ناورین سره سره دوامداره بریدونه روان دي.

اغلې فریزر وویل: "ان د ۲۰۲۱ م کال د اګست له ۱۵مې دمخه، د وسله والې جګړې او تاوتریخوالي قربانیانو د اړینو طبي، مالي او رواني مرستو د ترلاسه کولو هڅې کولې. د تاوتریخوالی له قربانیانو سره مرسته اوس لا سخته شوې، ځکه چې د حیاتي خدماتو لپاره د بسپنه ورکوونکو تمویل کم شوی دی. "

* * *